# مطبوعاتي اعلاميه

## د پوځ ور مشر پر امریکا تکیه نه کوي، د خلافت بیا تاسیس ته نصرت ورکوي او د اشغال شوي کشمیر د ازادولو لپاره پوځ بسیج کوي

جنرال باجوه په واشنګټن کې له خپلو بادارانو سره د مخې ښې لیدنې کوي. غواړي چې له تګ وروسته یې هم پاکستان د امریکا د غلامۍ پر ځنځیرونو تړلی پاتې شي، له همدې امله د پنټاګون او امریکا د بهرنیو چارو وزارت له چارواکو سره پر خبرو اترو لګیا دی. دا چې ده امریکا ته اوږد او ښه خدمت کړی و، امریکا په لوړه کچه پوځي ترتیبات ورته نیولي وو.

دا د پاکستان پوځ او متنفذینو ته یو چلنج دی چې د جنرال باجوه له تګ وروسته د استعمار له غلامۍ ځان خلاص کړي. د پاکستان ملکي او پوځي حکام باید دا تصمین کړي چې د پوځ نوی مشر به د پاکستان او مسلمانانو د ګټو ساتنه او خدمت کوي. دوی باید په سیمه کې د جنرال باجوه په څېر د امریکا د ګټو د بل ساتونکي مخه ونیسي.

د اسلام له نظره، د اسلامي ځواکونو مشر باید د خلافت د بیا تاسیس لپاره نصرت ورکړي. هغه باید یوې داسې ډلې ته نصرت ورکړي چې اسلام په بشپړ او انقلابي ډول پلی کړای شي. دا یو مکلفیت دی چې د الله سبحانه وتعالی له لوري د پاکستان د پوځي رهبرۍ پر غاړه پروت دی، ترڅو اوسنی نا اسلامي، بشري او ډیموکراتیک نظام ړنګ کړي. د حربي کفارو د جاسوسۍ هغه مرکزونه وتړي چې د سفارتونو او قونسلګریو په نامه یې کارونه پر مخ وړي او په دې توګه د دوی استخباراتي سرچینه ړنده کړي. باید واک یوې صادقې او باخبره رهبرۍ ته وسپاري، چې د الله سبحانه و تعالی په لار کې جهاد پیل کړي او د پوځ ځنځیرونه مات کړي.

دا د پاکستان د پوځي رهبرۍ دنده ده چې اشغال شوی کشمیر ازاد کړي؛ د هندو دولت ظلمونه پای ته ورسوي، چې تر یو لکو زیات مسلمان نارینه، ښځې او ماشومان یې شهیدان کړي؛ پر زرګونو پاکو مسلمانو ښځو یې جنسي تیري کړي؛ زرګونه ځوانان یې ورک کړي او زموږ ماشومان یې اړ کړي چې د هندو مذهب سندرې ووایي.

د پاکستان وسله وال ځواکونه د اسلامي امت هغه اتلان دي چې مشري یې باید د سعد بن معاذ، خالد بن ولید، صلاح الدین ایوبي او محمد بن قاسم رضی الله تعالی عنهم په څېر کسانو په واک کې وي. له دغو ځواکونو څخه تمه کیږي چې د هند د خلاصون او د مسجد الاقصی د ازادولو په لاره کې جهاد وکړي. د پاکستان پوځ باید د اسلام او مسلمانانو ساتونکی وي؛ اسلامي امت همدا ترې غواړي او د همدې تمه ترې لري.

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** په دنیا او اخرت کې د بریالیتوب لپاره مخ پر وړاندې لاړ شئ! د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد وکړئ! د مسجد الاقصی د ازادولو او د یهودي اشغال د له منځه وړلو لپاره را ولاړ شئ! د خلافت د بیا تاسیس او د شریعت د سملاسي او هر اړخیز تطبیق لپاره راپاڅېږئ! د جنت او د تلپاتي راحت ژوند لپاره هڅه وکړئ چې الله سبحانه وتعالی یې د خپلو مطیع بندګانو لپاره ژمنه کړې. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)**

**ژباړه:** *«هغه څه چې رسول صلی الله علیه وسلم تاسو ته راوړي، هغه واخلئ او له کوم شي څخه مو چې منع کوي، له هغو څخه ډډه وکړئ. له الله تعالی څخه ووېرېږئ. الله تعالی سخت سزا ورکوونکی دی.»*
[حشر: ۷]

**حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۱۱مه**

**۲۰۲۲م کال، د اکتوبر ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۰/ ۱۴۴۴**